محمد هارون خپل شعشعي


۰۷ اګست ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۰

### ۱۲۷- فقر، د فقر ډولونه، د فقر مقام او مرتبې، فقير او صوفي :

فقر په لغت کي د يو شي نسته والي، نېستي، ناداری، لاس تنګی او درويښی ته وايي[۱] . فقير هغه څوک دئ، چي پر دونيا(دنيا) هيڅ و نه لري[۲] . فقر د تصوف او عرفان په اصطلاح، له خلګو بې نيازي او د ريښتيني غني ( الله سبحانه و تعالی) په دربار کي نيازمندي ده . فقر او نياز د خدای تعالی حضور ته، تر ټولو نيژدې لار ګڼله کيږي . د ځينو عارفانو په اند، فقر او نياز داسي مقناطيس دئ، چي ټل د حقيقت اسرار جذبيي[۳] . د خدای تعالی فقير مينان، دونيايي غوښتني او معاملې د ځينو نورو عواملو تر څنګ، حقيقي هستی ته د رسېدو په لار کي داسي خنډونه او حجابونه بولي، چي انسان د حق تعالی له ذکره اړيي( اړوي) . له دې امله د خدای تعالی د لاري سرسپارلي فقيران د دونيا له ښو او ښادييو څخه په ډېر لږ څه غاړه باسي؛ او تر خپلو ورځنيو اړتياوو زياتي شتمنی ته د چټلې او جيفې په توګه ګوري .

د اسلام ستر پيشوا- حضرت محمد ( ص ) د فقر او مال په ماهيت اوځانګړتياوو ښه خبر ؤ؛ ځکه يې نو د مال او شتمنی پر ځای، فقر او درويښي غوره کړه؛ او خپل اُمت ته يې په ډاګه وويل : « د دونيا او آخرت سوکالي، په فقر اودرويښی؛ خو بلا او بدمرغي يې، په مال او شتو نغښتي ده[۴] . د رسول الله ( ص) مبارک حديث دئ، چي وايي : « الفقر فخری » ياني فقر ما ته وياړ دئ . د فقر د فضيلت په باب د سرور کاينات په يوه بل حديث کي داسي راغلي دي :« ما تي ( ته يي) جنت راښکاره کئ، چي اوسېدونکي يې درويشان وه؛ ماته يې دوږخ هم را وښيه، چي ډېری اوسېدونکي يې مالدار او شتمن وه[۵] . » دا مبارک حديث له لږ توپير سره، په صحيح بخاري کي هم راغلئ دئ[۶] .

داسلام نامتو متشرع او صوفي - حجة الاسلام ابو حامدمحمد امام غزالي ( ۴۵۶- ۵۰۵ هـ ق) په خپل مشهور اثر « احیأ العلوم » کي د ما الفقر ؟ یا فقر څه ته وایي؟ په جواب کي د رسول الله ( ص) دا حدیث راوړئ دئ : « قال خزینة من الخزاین الله تعالی » یاني فقر، دحق تعالی له خزانو څخه یوه خزانه ده[۷]. امام غزالي، په همدې کتاب کي د حضرت عُمر ( رض ) له خولې د پیغمبر ( ص) یو بل حدیث راوړئ دئ، چي په هغه کي د مسکینانو او فقیرانو مینه او تریخ صبر د جنت کیلي بلله سوې ده[۸] .

وتلی او منلی عرفاني مفکر- عزیزالدین نسفي (۶۳۰- ۷۰۰ هـ ق) په خپل ارزښتناک عرفاني اثر « انسان الکامل » کي فقراو نېستي لوی نعمت ګڼي؛ او شتمنی ته د لويي خواری په سترګه ګوري؛ خو خلګ په دې خبره نه پوهېږي؛ ځکه نو له فقره څغلي؛ او له هغه بد وړي . د ده په نظر، لکه څنګه چي له شاتو سره تودوالی او له کافورو سره په طبیعي ډول سوړوالی ملګری دئ، له مال، جاه او جلال سره هم تفرقه او پراګندګي ملګرې ده . هر څوک ( پوه او نا پوه) چي مال او دولت ته ورسیږي؛ او پر شان او شوکت یې سترګي ولګیږي، خا مخا له تفرقي، بلا او فتني سره مخامخ کیږي[۹] . »

## د فقر ډولونه او مرتبې :

شېخ نسفي، د فقر د ډولو او د فقیرانو د مرتبو په باب هم خورا په زړه پوري بیانونه لري . د ده په نظر، د فقیرانو یوه ډله داسي داده، چي له ځانه اصلاً هیڅ نه لري؛ خو دوی یې په مینې او شوق سره غواړي؛ او تل د مال او شتمنی په لټه کي یي (وي) . دا ډول فقیران سرابښ یا حریص فقیران دي .

دوهمه ډله فقیران، هغه کسان دي، چي په مادي دونیا کي هیڅ نه لري؛ سره له دې هم د دونیا او دولت په لټه کي نه دي؛ خو د اړتیا پرمهال سوال کیي . یوازي د خپل محدود ضرورت په ګچه څه غواړي او په ډیري خوشالی سره په هغه قناعت کیي . دې ډول فقیرانو ته قانع فقیران وایي .

دریمه ډله فقیران، هغه فقیران دي، چي د دونیا له مال او منال څخه هیڅ نه لري . نه دونیا غواړي؛ نه یي په لټه کي دي؛ د اړتیا پر وخت چا ته لاس هم نه غزیي . که د ژوند او ګوزارې دپاره څه لاس ته ور نسي، په صبر او توکل سره ژوند کیي . دا ډول فقیرانو ته صابر فقیران وایي .

په څلرمه ډله کي هغه فقیران شامل دي، چي د دونیا له ښو او ښادییو څخه هیڅ نه لري؛ د مال او شتمنۍ په لټه کي هم نه دي، د اړتیا پر مهال له چا څخه سوال او غوښتنه هم نه کیي . که څه ور و هم نه رسیږي، د خپل خالق حضور ته د شُکر لاس پورته کیي؛ او د الله تعالی په توکل سره شپې او ورځې سبا کیي . دې ډلي فقیرانو ته شاکِر فقیران وایي[۱۰] . صابر او شاکِر فقیران پر دې نړۍ د خدای دوستان او په آخرت کي د الله تعالی ملګري دي.

د تصوف او عرفان مخکښان په دې باور دي، چي په قیامت کي به هر څوک د خپلوګوناوو او تقصیرو په وجه د الله تعالی استغفار او استرحام کیي؛ خو له صابرو او شاکرو فقیرانو څخه به لوی ښتن په خپله عُذر غواړي . له همدې کبله به بې حسابه جنت ته ځي؛ او حق تعالی به د هر یوه شفاعت مني . د الله ( ج) د ویاړلي رسول بل حدیث دئ، چي وایي : فقیران به تر شتمنو، پینځه سوه کاله مخکي، جنت ته ځي . دغه موده، د یوه بل نبوي حدیث له مخي، ځلوېښت کاله ښوول سوې ده . د شېخ نسفي په عقیده، ښایي د وروستي حدیث مقصد، د سرابښو یا حریصو فقیرانو ډله یي . که د شېخ نسفي دا اټکل سم یي، نو بیا ګورو چي حتا د حریصو یا سرابښو

فقیرانو ډله هم تر مالدارو او شتمنو کسانو، ځلوبښت کاله مخکې، جنت ته لار مومي . له دې استدلال څخه یوازې دا نتیجه اخیستل کیږي، چې د بې نیازه ښتن په وړاندې فقر او نیستي ګنج ؛ خو مال او شتمني بلا ده .

د فقر او نیستی دهمدې لوړ مقام له مخې دئ، چې فخر العالمین - حضرت محمد ( ص ) په خپل حدیث « الهم احیینی مسکینا وامتنی مسکینا و احشرنی فی زمرة المساکین » کې له خدایه ځان اوخپلو ټولو پیروانو ته د فقر او درویشی استدعا کړې ده ؛ او د فقیرانو په ډله کې ( کې یې) د بیرته را ژوندي کېدو ویاړ غوښتئ دئ .

د شیخ نسفی په نظر، فقراو درویشي یو عیب خو ډیر هونرونه لري . د فقر پرخلاف شتمني یو هونر ( هنر) خو ډیر عیبونه لري . د فقراو درویشی یو عیب ښکاره؛ خو ډیري ښېګنې او هونرونه پټ دي . بالعکس د شتمنی یو هونر ښکاره؛ خو ډیر عیبونه پټ دي ؛ ځکه خلګ ظاهر ګوري، باطن نسي کتلای [11] .

د پاړسي ژبې په عرفاني ادب کې بل پېژندل سوئ عارف - حافظ شیرازي ( په ۷۹۱ هـ ق کې مړ) په خپل دیوان کې د فقر او قناعت په ستر ه خزانه داسي ویاړي، چې د پاچا د ناز او نعمت پروا نه لري :

« . . . ما آبروی فقر و قناعت نه نمی بریم
با پادشه بگوی کـه روزي مقدرست[12] »

لکه څنګه چې داسلامي تصوف او عرفان وتلي انګرېز لیکوال او څېړونکي - پوهاند ر. ا. نیکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵ع) په خپل ارزښتناک اثر « د اسلام صوفیان » کې یادونه کړې ده، فقر یوازې د مال او شتو نسته والی نه دئ؛ بلکې د شتمنی او دولت غوښتني نسته والی هم دئ . فقر په حقیقت کې، تش زړه او تش لاس دئ[13] . پوهاند نیکلسن، د فقیرانو دپاره د عرفاني مخکښانو و وینا ته داسي اشاره کیږي : « تر څو وږی نه یې څه مه غواړه! د اسلام دوهم خلیفه - حضرت عمر ( رض) هغه فقیر په دورو وواهه، چې تر مړېدو وروسته یې لا هم فقر کاوه . که فقر ته اړسئ نو تر خپلې اړتیا ډېر مه غواړئ . پروفیسر نیکلسن ، فقیرانو ته د اسلامي تصوف او عرفان د وتلو او منلو لاربښوونکو د نصیحتو او سلا مشورو په لړ کې، همدغه راز لیکي : خوشاله اوسئ، هیڅ وخت ګیلې او شکوې مه کوئ؛ د خپل فقر په خاطر د خدای شکر ادا کئ؛ د څه موندلو په اسره مه د بدایانو غوړمالی کوئ؛ او مه یې د نه در کولو له امله، په پرتیا او بدی سره نوم اخلئ[14] . »

د پښتنو متفکر او متبحر عرفاني لاربښود- بایزید روښان ( ۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق) فقیر هغه څوک بولي، چې د فقر ټول پړاوونه یې بشپړ کړي یي . یاني د « تخلقوا باخلاق الله » لوړ عرفاني مقام ته په رسیدو سره یې، د دونیا هر څه د خدای په مینه کې پرېښي یي . پیر روښان، د فقر د بشپړتیاپه باب، د کایناتو د ویاړلي او نازولي پیغمبر- حضرت محمد ( ص) دې مبارک حدیث ته هم ګوته نیولې ده : « اذا اتم الفقر یکون عینا کعین الله » یاني کله چې فقر بشپړ سي د فقیر ژوند هم الهي صفت مومي[15] .

زموږ فقیر مشربه عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم د فقر په اړه ډېرې ژورې او ارزښتناکې نظریې لري . هغه، د روښاني عرفاني ډوکتورینو په رڼا کې د فقر دوه ډولونه بیانیي، چې « اختیاري فقر » او « اضطراري فقر » نومیږي . اختیاري فقر، لکه څنګه چې له نامه یې ښکاري، هغه فقر دئ چې صوفي یا عارف یې، الهي نور یا حقیقي پوهې ته د رسېدو په هیله، په خپله خوښه غوره کیي . فقیر، په دې ډول فقرکې نه یوازې له لوږې او نیستی ګیله نه کیي، بلکې د فقر په خوښی او مستی کې ځان نور هم خپل واقعي معبود ته نیژدې ګڼي . دا فقر، یوازې د نوس د هوا او هوس په وژلو سره تر لاسه کیږي . د تصوف اوعرفان لارویان، د نفس له لوموڅخه د زړه او روح په ژغورني سره، د مال او ملکیت پر ځای، د حقیقي مالِک د قرب او وصال لار غوره کیي .

اضطراري فقر، هغه فقر دئ، چي فقيرته د اړی او ناچاری له مخي ور پيدا کيږي . په دي ډول فقرکي، فقير تل له فقراونېستی څخه سر ټکيي؛ اوهغه ته د خپلي بد مرغی او ناوړه ژوند د يوازني علت په سترګه ګوري . د مخلص له عرفاني نړی ليد سره سم، د فقيرانو دا ډله چي د سرکښه نوس په ځنځيرونو تړلي ده؛ او د عرفاني ژوند له ټولو ښېګنو څخه يې هيڅ نه دي تر لاسه کړي، هيڅکله د ريښتيني خوښی او غنا مخ نسي کتلای . په يوه پاړسي مثنوي کي د دونيا هغو شتمنو ته د مړو خطاب کيي، چي د مال او دولت څُوَب يې په زړو کي د خدای ذکر او مينه له منځه وړې يې . مخلص، د دي ډول کسانو په ناسته پاسته کي د زړه او اروا اپت ګوري :

« مردګانند اغنيای روزګـار

اي پسر با مردګان صحبت مدار

صحبت ايشان زوال جان بـــود

پيش دانا اين سخن عريـان بود

حرص دنيا در دلت پيدا شـــود

حُب جاه اندر دلت بر پـــا شود

مرده ګردد دلت ز حُب ذوالجـلال

آنکه دارد حُب جاه وحُب مال۱۶ »

په يوه بيت کي فقرله مال او دولت سره نه، بلکي د نوس له لاندي کولو سره تړي؛ او فقير په ټول جهان کي هغه څوک بولي، چي د نوس هوا يي پريښي يي :

چي د نوس هوا يي ترکه کړه فقير دئ

په جهان کښي که نسأ وي يا ذکــور وي

چي پر نوس فتحه يي بيا مونده يقين کـــړه!

هغه کس به په دوو کونو کښي منصور وي

په يوه غزله کي د قرآني نصوصو په رڼا کي، استدلال کيي چي مال اوشتمني، اولاد او عيال ټول فتني دي . که څوک د حساب په ورځ د حق تعالی د هر ډول پوښتني په وړاندي د ډاډ او اطمينان هيله لري؛ نو بايد د مادي او مانوي ( معنوي) فقر لار خپله کړي :

لوی عاقل سړی هغه دئ په جهان کښي

هر چي خلاص شي د دنيا له قيل و قاله

عاقلان په دا جهان کښي فقيران دي

چي يي زړه وابسته نه وي له عيـاله

په دنيا کښي به روزګار په بېغمی کـه

په حشر به زهير نشي لـــه سواله

مخلص، فقر داسي خزانه ګڼي، چي انسان ته تر وربښمين اتلس په زيږه شړی او تر پرتميني مانی په خواره جونګړه کي ډېره مستي او خوشالي بخښي :

چي د فقر دولت بيا مومي له حـــقـه

پر شړييه به راضي تر ښه اطلس شي

بل ځای د هغه شاکِر فقیریادونه کیي، چي فقر الهي انوارو ته د رسېدو لار ګڼي؛ او په دې انوارو د دونیا ترهرمال و منال وياړي . د مخلص په دې بيان کي د فقر د مانویت ( معنویت) مسألي ته اشاره سوې ده . په دې مانا، چي يوڅوک کېداي سي له ډېر مال او منال سره فقيرانه خوی ولري؛ او بل څوک بر عکس، په نېستي او بېوزلۍ کي هم د فقير خوی او خصلت ونه لري؛ په خپل فقر او نېستۍ کي هيڅکله خوښ نه يي؛ تل په مال او دونيا پسي غوټې وهي . په دې توګه، نېستي او بې وزلي په خپل ذات کي د فقر يوازنی نخښه نه ده . د لوی ښښتن په بندګانو کي د هغو پيغمبرانو، وليانو او نېکو کسانو شمېر لږ نه دئ، چي له بې شماره شتمنيو او مادي سوکالييو سره سره د فقر او نېستۍ په لوړه اروا وياړل سوي وه؛ د دونيا مال او منال يي هيڅکله په زړو کي د خالق د ميني او اخلاص ځای نه ؤ نيولئ؛ همېشه يي خپله شتمني د خدای عطا او پېرزوېنه ګڼلي؛ او د خدای د خوښۍ په لار کي لګولي ده . زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، د فقر دا الهي نور داسي بيان کړئ دئ :

چي په فقر کښي ناظرد حق په نور شـــه

د براهيم په څېر فقير به خوښ، شــکور وي

چي يي فقر اختياري وي خوښ به اوسـي

د مضطر په فقيری کښي ډېر ضـــرور وي

بل ځای، د خدای مينه او دهغه ذکر و فکر، د هر شي د ښه والي معيار ګڼي . د ده د عرفاني نظريو له مخي، هر هغه څه چي انسان دحق تعالی له ذکر او فکر څخه ليري کيي، په واقعيت کي دونيا او د هغي بېلابېلي فتني دي؛ بالعکس هغه مال او شتمنی هيڅکله کوپر ( کفر) يا حجاب نه، بلکي په خپله دين او ديناري ده، چي انسان د پروردګار له ذکر او ميني څخه نه ليري کيي . داسي مال او دولت تل د خالق تعالی د بندګانو د سوکالۍ او نېکمرغۍ وسيله ده . په بشري ټولنو کي د داسي کسانو شمېر لږ نه دئ، چي سره له مال او شتمنيو، بيا هم تل د خدای په مينه کي ډوب دي؛ او خپل مال و دولت د انسان خدمت په لار کي لګيي . زموږ سترګه ور او تېزبين شاعر، علي محمد مخلص، همداعرفاني نظريه داسي بيانيي :

« هر چه مشغولت كند از ذكر دوست

دور گرداند ترا از فكر دوست

دنيا و كفر آن ز حق دانـی که اوست

گر نگرداند ترا غافل ز حـــق

بشنو و برگير از مـن ايـن سبق

نيست آن دنيا ترا كفر و حـجـاب

بلكه دين است چون بيابی زو ثواب۱۷»

مخلص، د اسلام د ستر او نامي پيغمبر، حضرت محمد ( ص )، د مبارک حديث په رونا کي، فقرد انسان ستر او بې زواله وياړ ګڼي :

« . . . فخر آن حضرت ز فقر است ای پسر!

نی ز جوهر نه ز سيـــم و نه ز زر

پس ترا بايد كه فخر خود عـــزيز

فقر دانی گر داری تميـز

زانكه فخر را فقر باشد بر كمال

فخر دنیارا بود آخـر زوال[۱۸] »

مخلص، هغه فقیر د فقرله لوړو او وياړلو فضیلتو څخه بي برخي ګڼي، چي په فقر کي سر له ډاګه ډاګه وهي؛ فقر د خدای د نعمت او خزاني پر ځای، خپله بدمرغي او ځوروونه ګڼي :

چي يي فقر اختیاري نه وي له حقــه
که له فقره به شکوه کاندي معذور وي
چي ګيله، شکوه له فقره که په زړه کښي
له هغوزړونو د فقر نور مستــور وي

په بله غزله کي د فقیر او عارف صوفي تر منځ ژورو او باریکو توپیرو ته پام کيي . د ده په اند، صوفي او عارف د خدیو او موانعو په له منځه وړلو سره، له هر ډول تصرف، ارادې او اختیاره لاس اخلي؛ د صبر، توکل او رضا و لوړو پوړیيو ته خېژي؛ او خپل هر څه د الله تعالی حضور ته سپاري؛ په داسي حال کي، چي فقیر له خپل ټول فضیلت او سپیڅلتیا سره سره، بیا هم له عوارضو او حجابو ژغورلئ نه دئ؛ خپل واک او اختیار تصرُف او اراده له لاسه نه ورکيي . دا عرفاني مسأله د مخلص په یوه غزله کي داسي بیان سوې ده :

صوفي کېش له تصرفه منــزه دئ
فقیران نشي ګوښه له عوارضـــه
فقیران که تصرف په خپل عمل کښي
صوفي خلاص دئ د خپل ځان له فرایضه

مخلص، د دونیا او الهي مینې ګډول خیالي، ناشونی او له لېونتوبه ډک کار بولي :

« . . . هم خدا خواهی و هم دنیـــای دون
این محال است و خیال است و جنون[۱۹] »

مخلص، په خپل تاریخي او عرفاني اثر « حالنامه » کي د هغه واعظ د فقر او دونیا پرېښوولو عبرتناکه کيسه راوړې ده، چي هرکله به منبر ته پورته کېده، تر پند او نصحیت مخکي به یي ظالمانو ته دوعا( دعا) کوله . یوه ورځ، چا ورته وویل، چي حق تعالی په قرآن کي پر ظالمانو لعنت ویلئ دئ؛ خوته چي هره ورځ منبر ته خېژې، لومړی د ظالمانو په حق کي لاس پورته کيې! واعظ جواب ورکړ : اې ګرانه! دوی ډېره ګټه رارسولي ده؛ ځکه نو دوی ته دوعاکول پر ځان واجب ګڼم . هغه سړي بیا پوښتنه وکړه، ووایه چي له ظالمانو څخه دي څه ګټه لیدلي ده ؟! واعظ ورته و ویل : زه یو دونیا دوسته سړی وم؛ خپل خوږ عمر مي د دونیا په چارو کي تېراوه؛ په زرو ټګیيو او درواغو به مي مال او شتمني ټولوله؛ خو ظالمانو به په زور او ظلم راڅخه اخیستله؛ څو پلا مي په ډېرو ربړ و او خواریيو دونیا ټوله کړې وه، مګر هغوی د سترګو په رپه کي را څخه لوټ کړه؛ ناچاره مي د دوی له لاسه د دونیا چاري پرېښوولي؛ د دونیا څُوَب او مینه مي له زړه ووتله . په دې ډول، اوس د دغو ظالمانو له برکته د دونیا له بلا او د آخرت له حسابه وژغورل سوم[۲۰] .

فقر او نیستی د روښانیانو په عرفاني سیر او سلوک؛ په تېره بیا زموږ د روښان زړي عارف، علي محمد مخلص، په عرفاني نړی لید کي خورا لوړ او ویاړلی مقام لري . هغه د « حالنامې » په ټول متن کي، ځان ته د « فقیر » خطاب کړئ دئ . مخلص، همدغه راز یادونه کړې ده، چي حق سبحانه وتعالی د پیر دستګیر[ پیر روښان] د کورنی له برکته، تل و ده په پټ او عزت کي رزق رسولئ دئ؛ او هیڅکله یي د پاچا او وزیر وخدمت

ته نه دئ اړ کړئ . د رزق او روزی د پریمانی په باب د ده دابیان تر هر څه په زړه پوري دئ، چي وايي : « . . . خلگ زما و کار خو زه د خپل پروردگار وکار او مهربانی ته اریان ( حیران) یم ۲۱ . »

د نورو مالوماتو دپاره وگورئ : دونیا، عقبا او مولا، ذکر او فکر، حضور او غیبت، جمعیت او تفرقه، تسلیم، توبه، توکل، رضا، ریاضت، شکر، صبر، قناعت او داسي نور .

لمنلیکونه

۱ عمید ۳ : ۱۸۴۸ .

۲ نسفی، انسان الکامل ۳۲۸ .

۳ رزمجو ۲۷۶ .

۴ نسفی، انسان الکامل ۳۲۹ .

۵ نسفی، انسان ا لکامل ۳۳۱ .

6 Imam Bukhari 7: 88 (94, 124).

۷ غزالی ، احیاء العلوم ۳ : ۲۳۶ .

۸ غزالی، احیاء العلوم ۲۳۶ .

۹ نسفی، انسان الکامل ۳۲۸- ۳۲۹ .

۱۰ نسفی، انسان الکامل ۳۳۰ .

۱۱ نسفی، انسان الکامل ۳۲۹ .

۱۲ حافظ شیرازی ۶۲ .

13 Nicholson 37.

14 Nicholson 38 – 39.

۱۵ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۸۹ .

۱۶ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۵۳ .

۱۷ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۴۰ .

۱۸ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۲۷ .

۱۹ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۹۱ .

۲۰ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۶۹ .

۲۱ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۹۳ .

پاته لري